**<u>مطبوعاتي اعلاميه</u>**

## په ناروې کې پر جومات برید؛ غربي دولتونه د دغې کرکې خپرونې مسول دي!

**(ژباړه)**

د پاخه عمر لرونکو دوو مسلمانانو د ۲۰۱۹ م د اګېسټ پر ۱۰مه د ناروې په بروم ښار کې د هغې ناوړه هڅې مخه ونیوله، چې غوښتل یې د عبادت پر مهال په سوله غوښتونکو مسلمانانو کې عام وژنه وکړي.

موږ حزب التحریر ـ سکندنویا په دې اړه لاندې ټکو ته اشاره کوو:

**لومړی:** له هر څه وړاندې موږ هغو اتلانو او خپلو باعزته مشرانو ته د مېړني عمل له امله د عرفې مبارکې ورځې مبارکي وایو. موږ دغو کسانو ته د الله سبحانه وتعالی لخوا په دنیا او اخرت کې د ښېګڼې، لوی اجر او سرلوړۍ غوښتنه کوو.

**دویم:** پر دغو ټکو یو ځل بیا ټینګار کوو، چې غربي دولتونه، رسنۍ او سیاستوال په دوامداره توګه د اسلام ضد تبلیغات او دروغ خبرې کوي، څو یو ځل بیا خلک پر یوه جومات برید کولو ته وهڅوي. هغه سختدریځي چې له غرب څخه سرچینه اخلي، په کرکه اچوونکو بیانیو، ظالمانه توکمپالو سیاستونو او ځانګړو قوانینو سره د مسلمانانو پر وړاندې بریدونو ته هڅول کېږي. دا سیاست نن ورځ په یوه اصل بدل شوی او د پوپولېستو دولتونو لخوا د اسکانډنویا په شمول په غربي دولتونو کې پلی کېږي. اصلي موخه یې د مسلمانانو له پښو غورځول، کنټرول او فشار پرې راوړل دي.

غربي دولتونه او رسنۍ د دغې خپرې او عادي کړې کرکې مسولیت پر غاړه لري. سیاستوالو په اروپایانو کې د مسلمانو کډوالو د برید په اړه وېره خپره کړې او دغه کار ته بیا قانوني جامه وراغوندي. د کریسټ چرچ ترویستې برید کول او د ناروېژي صلیبي قاتل اندرس بریویک کړنه چې ځان یوه الګو بولي، دا په اصل کې د غربي هېوادونو د خلکو او ډلو هغه اسلام ضد سیاستونو او رسنیو دسیسې دي، چې د ۱۸ کلونو په اوږدو کې یې کړې دي. پر همدې مهال غربي امنیتي ارګانونو د سختدریځو پر کړنو سترګې پټې کړې او د دوی دغه کار د هغوی ناوړه کړنو ته لار هواروي، ترڅو په ملتي شبکو بدل شي.

پر دې سربېره هغه کرکه چې تروریستان يې کوي، د غربیانو لپاره یو عادي عمل دی. دغه ډول کړنې غربي ځواکونو په عراق او افغانستان کې ډېرې کړې دي، چې په پایله کې يې ملکي وګړي وژل شوي او ښارونه په بشپړه توګه وران شوي دي.

د یادولو وړ ده چې لویه ستونزه د ډنمارکي سیاستوالو هغه چوپتیا ده، چې په ناروې کې یې د وحشتنو پر وړاندې غوبرونه کاڼه کړي وو.

هغه فاشیستي رژیمونه چې غرب جوړکړي او په خاطرو کې يې ژوندي دي، اوس هم په غرب کې د ایډیولوژیک کړکېچ یوه پیاوړې اصطلاح ده. له اسلام څخه وېره او نژاد پالنه د غرب په تاریخ کې کومه نوې خبره نه ده، چې د یادو دولتونو په سیاستونو کې له ورایه لیدل کېږي.

غربي دولتونه او رسنۍ په همدې ترتیب له سیاسي او اخلاقي پلوه د هغو ګوابښونو مسوول دي، چې په یادو هېوادونو کې د مسلمانانو پر وړاندې شته دي. هغوی باید په ډېره بیړه د سختدریځۍ له جوړولو لاس واخلي او د مسلمانانو پر وړاندې د احساساتو پارولو مخه ونیسي.

**د حزب التحریر ـ سکندنویا مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۰هـ.ق کال د ذولحجې ۱۲مه**

**۲۰۱۹ م د اګېست ۱۳مه**

**د صدور ګڼه: ۱۴۴۰/۹**

**ژباړه: بهیر «ویاړ»**